# د PWCS ښوونځي فیس تادیات خورا اسانه شوي!

PWCS زموږ د آنلاین تادیې نوی سیستم اعلانولو ته لیواله دی! د وخت، پیسو او کاغذ ضایع کیدو د کمولو هڅه کې، د بیرته راستنیدونکو زده کوونکو والدین کولی شي د ښوونځي پیل کې د اوږدو قطارو څخه ځان وساتي او د خوندي آنلاین ویبسایټ له لارې چې د لاندې ویب پاڼې له لارې لاسرسی ورته لري د خپلو ماشومانو ښوونځي فیسونه ورکړي:

https://www.studentquickpay.com/pwcs

که تاسو یو موروپلار یاست چې په مختلفو ښوونځیو کې ډیری ماشومان لري، دا ټول به ستاسو موروپلار د آنلاین تادیې حساب لاندې یوځای راښکاره شي. د یو څو موس موږک کلیکونو سره، والدین کولی شي ارزول شوي فیسونه، فعلي بقایاجات وګوري، او په یوه معامله کې د خپلو ټولو ماشومانو فیس تادیه کړي. تادیې د Visa، Visa Debit، MasterCard، او MasterCard Debit له لارې کیدلی شي.

- د حساب جوړولو او سیستم کارولو په اړه پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ لاندی ادرس ته بریښنالیک واستوئ: creditcard@pwcs.edu

- د فیسونو په اړه د عمومي معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم له ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

د PWCS موروپلار په توګه، تاسو اختیار لرئ د آنلاین یو شمیر لازمي او انتخابي ښوونځي فیسونو تادیه وکړئ. زموږ د فیس مدیریت او آنلاین تادیې سیستم ستاسو د کور یا دفتر څخه په راحت سره د ښوونځي فیسونو تادیه کولو اسانه او خوندي لار ده.

## د PWCS آنلاین تادیې سیستم تاسو ته اجازه درکوي د لاندې شیانو لپاره تادیه وکړئ:

- د زده کړې فیس
- د اطلاعنامې غوښتنې
- د آلاتو کرایه کول
- د موټر چلولو زده کړه - Behind the Wheel
- د دوبي ښوونځي برنامې
- د فعالیت فیسونه
- د کتابتون جریمې
- د ساحې سفر فیسونه
- او نور ډیر!

## تاسو کولی شئ د PWCS آنلاین تادیې سیستم وکاروئ چې:

- د ښوونځي ټاکل شوي فیسونه تادیه کړئ
- په یوه وخت کې ستاسو د کورنۍ ټولو زده کوونکو لپاره د فیس تادیه وکړئ
- د خپلې تادیې تاریخچه وګورئ
- آنلاین فورمې وګورئ او بشپړ کړئ
- خپل ټول راتلونکي د فیس تادیې په یو ځای کې وګورئ
- د تادیې رسیدونه پرنټ کړئ
- د زده کوونکي حساب بیانات پرنټ کړئ


## د PWCS آنلاین تادیې سیستم کارولو ګټې:

- کریډیټ کارت یا ډیبټ کارت مني


- اسانه او خوندي ټرانزکشن یا راکړه ورکړه وړاندې کوي
- په ورځ کې 24 ساعته شتون لري
- په یو ځای کې د ډیری فیسونو تادیه کولو اسانتیا
- د هر ځای څخه د لاسرسي وړ چې د انټرنیټ اتصال شتون ولري
- په محاسبه او د زده کوونکي فیس معلوماتو سیستمونو کې په لاسي ډول د معلوماتو داخلولو کې د ښوونځي دفتر د کارمندانو وخت خوندي کوي
- د والدینو او معارف ریاست لپاره د فیس مدیریت او راټولولو پروسې منظمې کوي
- د ښوونځي او معارف ریاست په کچه د غوره فیس راپور ورکول برابروي

## زه څنګه کولی شم یو د مورروپلار حساب جوړ کړم؟

- د ویبسایت په کور پاڼه کې، د ژیړ **د ننوتلو** آیکون باندې کلیک وکړئ.





- کله چې د ننوتلو کړکۍ راخلاصه شي، د **حساب جوړ کړئ** بټن باندې کلیک وکړئ.



Prince William County PUBLIC SCHOOLS
*Providing A World-Class Education*

## حساب جوړ کړئ


- د خپل لومړي نوم، اخري نوم او بریښنالیک سره نوملیکنه وکړئ.
- یو رمز غوره کړئ او خپل رمز تایید کړئ.





- په راتلونکی بټن کلیک وکړئ.

## زده کوونکي خپل حساب ته اضافه کړئ


- زده کوونکي اضافه کړئ بټن باندي کلیک وکړئ




- خپل د موروپلار حساب ته د زده کوونکو اضافه کولو لپاره، ستاسو د ماشومانو د زده کوونکي ID شمیري او اخري نوم ته به اړتیا وي.
- په زده کوونکي اضافه کړئ بټن کلیک وکړئ




- زده کوونکی باید د لینک یا ربط شوي حساب کړکۍ لاندې ښکاره شي که چیرې دوی په بریالیتوب سره ستاسو حساب ته اضافه شوي وي.





- که تاسو خپل حساب ته د اضافه کولو لپاره ډیر ماشومان ولرئ، نو بیا د زده کوونکو اضافه کولو بټن باندې کلیک وکړئ او پورته مرحلې تکرار کړئ.
- که تاسو یو له کارمندانو څخه یاست، د کارمند نوملیکنه بټن باندې کلیک وکړئ او د کارمند حساب جوړ کړئ. دا به تاسو ته د موجود هرډول کارمندانو فورمو د مشاهدې امکان برابر کړي.
- زه د میلمه په ډول د نوملیکنې بشپړولو وړاندیز هم کوم ځکه چې دلته به د عامو خلکو لپاره توکي شتون ولري لکه د Hylton Planetarium ته ټیکټونه.
- که تاسو خپل حساب ته د اضافه کولو لپاره نور ماشومان نلرئ، د سرته رسیدلو بټن باندې کلیک وکړئ.

**Prince William County PUBLIC SCHOOLS**
*Providing A World-Class Education*

## لنډیز پاڼه

که تاسو د مورروپلار حساب سره تړلي له یو څخه ډیر زده کوونکي لرئ، نو تاسو به د لنډیز لومړۍ پاڼې ته راوړل شئ، چیرې چې تاسو کولی شئ ټول هغه ماشومان وګورئ چې ستاسو حساب سره تړلي دي. د زده کوونکي انفرادي ټب باندې کلیک وکړئ ترڅو د هغوی فیسونه وګورئ، آنلاین فارمونه ډک کړئ، او آنلاین تادیه وکړئ.





Welcome to Prince William County School's new Online Payment Portal! Please review your students below and when ready, click on an individual student tab to review their fees and complete online forms. When ready, click on the shopping cart icon in the top right-hand corner to check-out and make an online payment.

| Student ID | Name | Grade | School | Due |
|---|---|---|---|---|
| Staff | Alicia Burdick | | PWCS Staff | **$0.00** |
| 123789X | Child Garcia | 10 | Hylton High School | **$0.00** |
| 123456X | Student Garcia | 12 | Hylton High School | **$0.00** |

## د زده کوونکي انفرادي حساب


که تاسو یوازې یو زده کوونکی خپل د موروپلار حساب سره وصل کړئ، تاسو به سمدستي د هغوی انفرادي زده کوونکي حساب ته راوړل شئ، چیرې چې تاسو کولی شئ د هغوی فیسونه وګورئ او خپل کارټ کې اختیاري توکي اضافه کړئ. کله چې چمتو شي، تاسو کولی شئ د چک آوټ کولو او آنلاین تادیې کولو لپاره په ښي لاس کونج کې د شاپینګ کارټ آیکون باندې کلیک وکړئ.




| 2019/2020 | Fee | Paid | All Adj | Due | In Cart |
|---|---|---|---|---|---|
| Planetarium | | | | | |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | - | - | $10.00 | ☑ |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | - | - | $10.00 | ☑ |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | - | - | $10.00 | ☑ |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | - | - | $10.00 | ☑ |
| Plush Pluto (with Charon) | $28.00 | - | - | $28.00 | ☑ |
| The Alien Who Stole Christmas - 12/21/19 @ 4:00 PM | $10.00 | - | - | $10.00 | ☑ |
| The Alien Who Stole Christmas - 12/21/19 @ 4:00 PM | $10.00 | - | - | $10.00 | ☑ |
| Total: | $88.00 | $0.00 | $0.00 | $88.00 | $88.00 |

## آنلاین تادیه وکړئ

کله چې تاسو د خپل زده کوونکي(و) حساب بقایا بیاکتنه ترسره کړئ، مهرباني وکړئ د چیک آوټ کولو لپاره د ښي لاس کونج کې د شاپینګ کارټ آیکون باندې کلیک وکړئ. والدین کولی شي یوه آنلاین تادیه وکړي چې ډیری ماشومان، غیر محدود فیسونه او اختیاري توکي د معارف ریاست په بیلابیلو ښوونځیو کې پکې شامل وي.




| 2019/2020 | Due | Pay |
|---|---|---|
| **Planetarium** | | |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Laser Fright Light (Family Friendly) - 10/26/19 @ 1:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Plush Pluto (with Charon) | $28.00 | $28.00 |
| The Alien Who Stole Christmas - 12/21/19 @ 4:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| The Alien Who Stole Christmas - 12/21/19 @ 4:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| **Total:** | **$88.00** | **$88.00** |

Child Garcia

| 2019/2020 | Due | Pay |
|---|---|---|
| **Planetarium** | | |
| Astronaut Ice Cream | $5.00 | $5.00 |
| Astronaut Ice Cream | $5.00 | $5.00 |
| Astronaut Strawberries | $5.00 | $5.00 |
| Dynamic Earth - 5/30/20 @ 4:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Dynamic Earth - 5/30/20 @ 4:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Dynamic Earth - 5/30/20 @ 4:00 PM | $10.00 | $10.00 |
| Pink Floyd: Dark Side of the Moon - 11/23/19 @ 5:30 PM | $10.00 | $10.00 |
| Pink Floyd: Dark Side of the Moon - 11/23/19 @ 5:30 PM | $10.00 | $10.00 |
| **Total:** | **$65.00** | **$65.00** |